دويمه کچه

# د شاپرک موسکا



ليکوال: متنجي سربرانين
انځورګر: ليونيا نيدو

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .




ليلى وويل: زده کوونکو!په قطار کې ودرېږئ چې پارک ته لاړ شو.
خبرې بندې او يو بل ته لاسونه سره ورکړئ. کائينات يواځې ولاړه وه.
کله چې دوی روانيدل، ليلى و پوښتل: آيا تاسو کې څوک ويلی شي چې کله د وريښمو چنجی لوی شي په څه بدلیږي؟
کائينات په ځواب پوهيده خو د هغې په خيټه درد وه. آيا هغه بايد ځواب ورکړي؟



کائینات له خپلې کورنۍ سره په همدې لنډ وخت کې ښار ته کډه شوي وو.
دوی په هغه ځای کې اوسیږي چې مور او پلار یې په کور جوړولو کارونو کې کار کاوي. په نیم جوړ کور کې ژوند کول ډیر ستونزمن دی. د دود بد بوی، د موټرو غږ هیڅوک خوب ته نه پریږدي. لوی تعمیرونه، تیز تلونکي موټرو او بوخت خلک د هغې د ناهیلۍ سبب ګرځي.



که چیرته هغوی د هغې په خبرو ملنډې ووهي او یا هغه و څوروي څکه هغه تر اوسه هیڅ ښوونځي ته نه وه تللې؟ کائینات اسویلي کوي او خپل لاس یې پورته نیولی ده. خو په یو ډک ښار کې هغه نشي کولای چې ټول وخت چپه خوله پاتې شي.



کائينات وويل: کله چې د وريښمو چنجي را لوی شي، په شاپرک بدليږي. ليلى وويل: هو! همداسې ده. کائينات وويل: د وريښمو چنجي يوازې يو څو اونۍ چنجي وي او له هغې وروسته په شاپرکو بدليږي. د د وريښمو چنجيو د ژوند دغه مرحله د پاڼو په خوراک تيريږي.

ماري خپلو ټولګيوالو ته وويل: دوی هرو مرو ډير لوييږي. کائينات وويل: هو، هغوی لوييږي. وروسته له دې چې د وريښمو چنجي په خوړلو پيل وکړي، بيا دغه چنجي د وريښمو کڅوړې د بوټو په ښاخونو کې اوبي. له هغې وروسته کڅوړو ته ننوځي چيرته چې ډيره وده کوي او بدلون مومي.



ليلى وويل: دا سم ځواب دی. دوی دوه اونۍ په کڅورو کې اوسيږي او کله چې بهر را وځي، په شاپرکو بدليږي.

ماري وويل: وګورئ مونږ په پارک کې يو. کائينات ستړې، ستړې کيږي او ساه باسي. پارک ټول له شاپرکو ډک دی.



اوبلن شاپرکونه د سمندر رنګ لري.
زيړ شاپرکونه د لمر په رنګ کې دي.
نارنجي شاپرکونه د پاخو زرد آلوو په رنګ ليدل کيږي. تور او سپين شاپرکونه د ستورو ډک آسمان په څير ليدلی شو.
دغو ټول رنګونو پسې چې په کلي کې ليدل کيدل کائينات خفه شوی ده.
او د هغې زړه په ټوپو وه.



هر کال شابرکونه په زرهاوو کلیومتره لاره سفر کوي تر څو دغه پارک را ورسيږي. دوی هګۍ اچولو لپاره ښه خوړو، تازه هوا او هوسا ځای ته اړتیا لري. لیلی وویل: دغه سفر ته مهاجرت وايي.




یوه زده کوونکي وويل: په دومره اوږد سفر کې چې دوی آلوزي، ستړي کيږي
او کنه؟
کائينات وويل: که چيرته يو قوي باد وي، بيا دوی وزر وهلو ته اړتيا نلري.
دوی خپل وزرې هواري نيسي او د باد په واسطه روان وي.
بيا ماري، کائينات ته ور په غوږ شوه: د دوی سفر بيا نو له ستونزو ډک دی.






کائینات د بس په تمه وه
چې ټوله لاره به په دې
اوږده سړک ځنګه ځي.
دا سفر به هم لکه د
شاپرکو د سفر په شان
وي؟



کله چې شاپرکونه خپل سفر پیلوي، دوی د اوبو په لټه کې وي. لیلی وایي: د روغ پاتې کیدو لپاره، د سین په غاړه د خوړو او اوبو لپاره تم کیږي او دې حالت ته ختېینه لامبو ویل کیږي. ماري پوښته کوي: ختېینه لامبو؟ دا څه ډول لامبو ده؟ بیا ماري او کائینات یو بل ته موسکۍ کیږي. کائینات وایي: همداسې په غوچوړو کې لامبي چې اوس نشته. د کائینات په کلي کې نارینه له سین څخه په خپلو لاریو کې تیږي راوړي. هلته هوا ډیره تودیږي. هلته ډیر لږ باران کیږي.

تیر کال دغه سیند وچ ؤ.
شاپرکو د لامبو لپاره اوبه نه درلودې.
د کائینات پلار ګنیٖ د خپل کښت لپاره هم اوبه نشوی پیدا کولی نو د همدې لپاره هغوی کډه شول.



لیلی وايي: کائینات! ته د شاپرکو په اړه ډیر معلومات لرې. کائینات وايي: دا د
دې لپاره چې شاپرک زما د خوښې حشرات دي.
ماري پوښتنه کوي: ولې دې شاپرک خوښیږي؟
کائینات څنګه کولای شي یوازې یو څه خوښ کړي؟
د هغې د شاپرکو خالونه، خطونه او رنګونه خوښیږي. هغه د ګل څخه د شیرې
را ټولول او په ګلونو د هغوی ګرځیدل خوښوي.














کائینات د ماري لاس په خپل لاس کې نیسي او وايي: دوی لرې آلوتنې کوي خو هر چیرته چې کیني، ځانته نوي ملګري پیدا کوي. لیلی وايي: شاپرک ډیر واړه، خو لکه ستا په شان ډیر غښتلي دي.

## شاپرکو ته خوندي ځای جوړول

په هند کې شاپرک په کال کې دوه ځله مهاجرت کوي. د دوی سفر له ستونزو ډک وي ځکه زمونږ ځنګلونه او سندونه ډیر ژر له منځه ځي. شاپرکونه د اوسدو لپاره سم ځای نه لري. ډیری شاپرکونه په لار کې ستړي کیږي.
یوه لاره چې کولای شو شاپرکو سره مرسته وکړو هغه دوی ته یو خوندي ځای جوړول دي چې هلته تم شي او سم خواړه تر لاسه کړي.



**کولای شو شاپرکو په دغې طریقې خوندي ځای برابر کړو:**



یو لوښی چې څنګونه یې یو څه لوړ وي لکه قاب را پیدا کرو.



دغه لوښی په سور، زیړ یا نارنجي رنګ باندې رنګ کړو ځکه چې د شاپرکو روښانه رنګونه خوښیږي.




په لوښي کې د شاپرکو خواړه جوړ کړو، او دا کار آسانه دی. څلور ګیلاسه اوبه او یو ګیلاس بوره.



یو څو د میوو ټوټې لکه کیله، ام یا نارنج ور
زیات کړئ.



او دغه لوښی په برنده، کړکۍ یا بهر یو
ځای کې کیږدئ.



دغه لوښی دوه یا درې ورځې وروسته پاک او بیا له
خوړو ډک کړئ.



که غواړئ چې ډېر شاپرکونه را خپل کړئ، نو
هغه بوټي وکرئ چې د دوی خوښیږي. تاسو کولای
شئ ډول، ډول ګلان وکرئ چې دوی ورته راشي.
د دغه شان بوټو کرلې ته د ډېر ځای اړتیا نشته.
کولای شئ په لوښو کې هم دغه شان بوټي وکرئ.

## لارښودونکې پوښتنې

1. د کتاب په هر مخ کې څه حیرانتیا ګورئ؟ ولي دا ستونزمنه ده چې په ښوونځي کې نوی و اوسي؟ له هغه کس سره چې نوی وِی وي څه مرسته کولای شې تر څو هغه ښه احساس ولري؟ د ملکرتیا، خپلولو، توپیرونو او همکارۍ په اړه خبرې وکړئ.
٢. د کډوالۍ عوامل په کلیوالي او ښاري ځایونه کې څه دي؟
٣. ولې خلک په لویه کچه له کلو څخه ښارونو ته کډ کیږي؟ د ښارونه لپاره څه ګټه ده؟ او کلیوالي ژوند ته کومه ستونزه پیښیدی شي؟
٤. له دغې قصې څخه د پتنګانو په اړه مونږ څه زده کوو؟ انسانان څنګه پتنګان متأثره کولی شي؟ مونږ پتنګانو سره څه مرسته کولی شو؟
٥. هغه کومې لارې دي چې یو کس د بوټو او نورو موجوداتو څخه ساتنه وکړي؟